# د یوحنا رسول دوهم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول دوهم لیک یوې غوره مېرمنې او اولادونو ته یې د ۸۵ نه تر ۹۵ میلادي کلونو په شاوخوا کې لیکل شوی دی. د غوره شوې مېرمنې معنی په هغه ځای کې سیمه ایزه کلیسا ده، او د هغې اولادونه د هغې کلیسا د غړو په معنی ده. کومو خلکو چې دا لیک تر لاسه کړی دی، یوحنا هغوی هڅولي دي چې د عیسی سره مینه وکړي، یو د بل سره مینه وکړي او په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شي. یوحنا د دروغجنو استاذانو په هکله خبرداری ورکوي او هغوی ته وایي چې که چېرې کوم څوک درشي او هغه تعلیم درنه کړي چې مسیح درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱ – ۳
د مینې غوره والی: ۴ – ۶
د غلطو عقیدو په هکله خبرداری: ۷ – ۱۱
وروستی خبرې: ۱۲ – ۱۳

## سلامونه

۱ د ایماندارانو د مشر له خوا د خدای غوره شوې میرمنې او د هغې اولادونو ته چې په رښتیا
راباندې ګرانه ده، یوازې په ما باندې نه، بلکې په هغو ټولو باندې چې د حقیقت څخه خبر دي، ۲

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه حقيقت په خاطر چې په موږ کې دی او تل ترتله به زموږ سره وي.

۳ د پلار خدای او د هغه زوی عيسی مسيح فضل، رحم او سلامتي دې وي په موږ باندې،
ترڅو دا ټول په موږ کې چې په حقيقت کې اوسېږو او يو د بل سره مينه کوو پاتې وي.

## حقيقت او مينه

۴ کله چې ما واورېدل چې ستا ځينې اولادونه لکه څنګه چې پلار موږ ته حکم کړی دی په
رښتينې لار روان دي، نو ډېر خوشحاله شوم. ۵ اوس ای ګرانې ميرمنې! زه ستاسو نه يوه
غوښتنه کوم چې د خدای خلک بايد د يو د بل سره مينه وکړي. داسې فکر مه کوه چې زه تاته کوم
نوی حکم ليکم بلکې دا هماغه حکم دی چې له پيل نه موږ ته راکړل شوی ؤ. ۶ دا مينه داسې
ده چې موږ بايد د خدای په حکمونو باندې عمل وکړو. دا هماغه حکم دی چې تاسو له پيل نه
اورېدلی دی او هغه حکم دا دی چې تاسو بايد په مينه کې ژوند وکړئ.

۷ ډېر غولوونکي په نړۍ کې خواره شوي دي چې دا نه مني چې عيسی د انسان په جسم نړۍ
ته راغلی دی. داسې خلک غولوونکي دي او د مسيح دښمنان دي. ۸ خبردار اوسئ چې موږ د
کوم څه دپاره خواري کړې ده چې هغه لاسته راوړو، هغه برباد نه شي بلکې خپل پوره اجر تر لاسه
کړو.

۹ هرڅوک چې د مسيح په تعليم باندې ټينګ پاتې نه شي او د هغه نه وګرځي، نو خدای د هغه
سره مل نه دی. خو که چېرې څوک د هغه په تعليم باندې ټينګ ولاړ وي نو د هغه سره به پلار او
زوی دواړه مل وي. ۱۰ که چېرې کوم څوک تاسو ته راشي او هغه تعليم درنه کړي چې مسيح
درته درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ او تر دې چې سلام هم ورته ونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایئ. ۱۱ ځکه چې هرڅوک چې هغه ته سلام ووایي نو هغه د هغه په بدو کارونو کې شریک دی.

## وروستنی خبرې

۱۲ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاسو ته یې ولیکم، خو زه نه غواړم چې هغه تاسو ته په
قلم او کاغذ باندې ولیکم. زه په دې هیله یم چې راشم او تاسو ووینم او مخامخ درسره خبرې وکړم
ترڅو زمونږ خوشحالي پوره شي. ۱۳ ستا د غوره شوې خور بچیان درته سلام وایي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
د ختیځ افغانستان ۲۰۲۱ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.